
ناول
Ketabton.com
انتظار
لیکوال: سیدادریس سادات
ډیزاین: د ښار هلک
۰۷۳۱۳۶۳۲۰۱

# بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم . انــتــظـــار (نــاول)

لیکوال . سیدادریس (سادات)

ډیزاین . پــخــپــلــه لــیکــوال

شماره . 0731363201

کال . ۲۰۲۳/ ۱۴۰۲

چینل . https://t.me/sadatketabtoon

ګروپ . https://chat.whatsapp.com/KXxowf0dlHRDKR

که چیرې تاسې هم د خپلو کیسو ناولو او کتابونو لپاره ښکلی ډیزاین غواړئ نو له موږ سره په تماس کې شئ...

0731363201

SA

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالۍ

# هغه چاته چې زه یې دلته ذکر نشم کولای خو ټول مینوال پوهیږي چې څوک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لنډو کیسو لوستلو لپاره راسره په فیسبوک کې ملګري شئ.

Said adrees sadat

پيل:

***

د پنجشنبې ورځ وه، زمونږ د دوهم سمستر اخيري امتحان و.

مور سهار وخته نارې کړې:

عادله زويه!

پاځيږه لمونځ وکه.

زه پاځېدم، لمونځ مې وکړ او درس مې يو ځل بيا له ځان سره تکرار کړ.

او ځان مې د پوهنتون د تګ لپاره اماده کړ.

له خپلې کوټې چې باهر لاړم مور مې د سهار چاى تيار کړى و. پلار مې هم په خپله څوکۍ ناست و، د هغه هم ځان تيار کړى و دفتر ته د تللو لپاره.

زه چې نږدې ورغلم ويل يې:

عادله زويه نن دې اخيري امتحان دى؟

ما ورته وويل:

هو پلاره نن اخيري امتحان دى

پلار مې وويل:

خا د رخصتى لپاره څه پلان لرې؟

ومې ویل:

پلاره ملګرو مې ډېر ټینګار کولو چې باید کلي ته لاړ شو او رخصت هلته تیر کړو او پلاره زما هم زړه کیږي چې لاړ شم په ماشومتوب کې چې تللي یم بیا مې کلی ندی لیدلی.

پلار مې وویل:

اړتیا نشته چې کلي ته ځې. همدلته اوسه او که زړه دې ډېر تنګ وي نو بل ولایت ته لاړ شه خو کلي ته تلل هېر کړه.

ورته مې وویل:

پلاره زه ولې نشم کولې چې کلي ته لاړ شم؟

پلار مې په سوک میز وواهه او ویې ویل:

چې ومې ویل نشې تلې نو بیا نشې تللی!

نور پورته شو د میز له سره او په غصه روان شو.

مور مې غلې ناسته وه.

ورته مې وویل:

مورې! پلار خو مې څه راته نه وایي ته یې راته ووایه اخر ولې نه تاسې کلي ته ځی او نه ماته اجازه راکوی

مور اول غلې وه

له لږې خاموشی وروسته یې وویل:

عادله چای دې خلاص کړه، او پوهنتون ته دې لاړ شه.

ماته هم ډېره غصه راغله خو هيڅ مې هم ونه ويل

زړه کې مې اراده وکړه چې دې کلي ته خو حتمن ځم ترڅو هرڅه معلوم کړم.

د کور له دهلېزه ووتم

کيلي مې د موټر په لاس کې نيولې وه

ګراج ته لاړم، موټر مې چالان کړ او د پوهنتون په لور روان شوم

بس يو رقم مې امتحان ورکړ.

د باندې چې راووتم مسيح راته ولاړ و

د هغه عادت دی چې ومې ګوري نو غېږ رانه چاپېره کوي او ځومره چې يې وس وي زور راکوي نن يې هم همداسې وکړل خو زما وضه ښه نه وه

هغه پوه شو

ويل يې:

يارو؟ دې شوي څه

وکړه ورته مې کيسه ټوله

:يې ويل

کوې؟ څه اوس نو ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته کلي ځم بس چې وويل مې ورته

:وويل مسيح

ځې؟ اجازې يې پرته نو

ومې ويل:

که اجازه واخلم هم پلار مې اجازه نه راکوي، نو بې اجازې ځم

مسيح وويل:

يارو چې اوس دې اراده کړې نو صحي ده. زه هسې هم تلم کلي ته او ستا او زما کلی خو يو دی.

ته به له ما سره لاړ شې زمونږ کور ته

او دواړه به يوځای د هر څه معلومات وکو.

ورته مې وويل:

خبره خو دې ډېره ښه ده خو مور ته مې هم بايد يوه بهانه وکړم.

هيڅ کومه بهانه راسره نه وه يو ناڅاپه مې د پلار خبرې ذهن ته راغلې

مور ته مې زنګ وواهه:

ورته مې وويل:

مورې! زه ځم د مسيح دوې سره پنجشير ته

هلته هم زمونږ ډېر ملګري دي

رخصت به د هغوي سره تېر کړم

ويل يې:

سمه ده زويه.

زه به دې پلار ته ووايم, خو يو څه پيسې هم له ځان سره له بانک راواخله بيا لاړ شه

زه مې د مور او پلار يوازينى زوى يم. يوه کوچنى خور لرم هغه هم مکتب وايي.پلار مې خپل دفتر لري. ډېر خلک يې د لاس لاندې کار کوي خپل کورونه او موټرونه لرو

ژوند کې مې د هيڅ څيز کمى نشته.

نو زه هم لاړم بانک ته لږې پيسې مې راووستې.

لږ څه ميوه او د اړتيا وړ توکي مو واخيستل

موټر کې زه او مسيح کيناستو او د کلي په طرف روان شو.

کله چې کلي ته نږدې شو نو نور لاره خرابه وه.

مسيح وويل:

دلته زما يو ملګرى دوکاندار دى هغه سره به موټر پريدو

ما هم ورسره ومنله

کله چې مو موټر هغه کس ته وسپاره نو

هغه کس وويل:

تاسې بې غمه اوسى زه پرې پام کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


مونږ هم له موټر ښکته شو او پیاده د کلي په طرف روان شو

د لږ مزل وروسته یوه غونډۍ مو مخې ته راغله

له هغې غونډۍ چې ښکته شو نو یو لوی خوړ و

دواړه خواوو ته یې لوی لوی غرونه موجود و او په منځ

کې همدا خوړ ښه په شور او ځوګ روان و

دوهمه برخه:

مونږ چې کله خوړ ته ورسېدو نو خدای شته ستړی شوې وم کله مې دومره مزل نه و کړی

نو مسیح ته مې وویل:

وروره راځه چې لږه دمه وکړو

ویې خندل ویل یې:

سمه ده زما نازولیه وروره

زه هم ورته مسکی شوم

د خوړ په اوبو کې مې لاس ښکته کړ ډېرې یخې وې

مخ مې پکې ومینځه

نور لاړم د اوبو ترخنګ په یوه تیره کښیناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library


له لږې دمې وروسته مسيح ته مې وويل:

راځه وروره چې حرکت وکړو

هغه هم سر وخوځاوو او روان شو

شايد لس دقې مزل به مو د خوړ په غاړه کړې وي چې ومې ليدل مسيح يوې پولې ته پورته شو

ماته يې هم لاس ونيوه

ما هم لاس ورکړ

ورپورته شوم

چې پام مې شو

هر طرف ته شنه فصلونه ولاړ و

لوړو چنارونو کلي ته لا ښکلا وربښلې وه

کورونه په غرونو کې په ډېر مهارت جوړ شوي و

زه ډېر کوچنی وم چې کلي ته مې پلار راوستی وم

نو هيڅ مې هم نه و په ياد

ددې ښکلې منظرې په ليدو بيخي هيران شوم

ما ډېر ښايسته ځايونه ليدلي و خو ددې کلي په اندازه ښايست ما لومړي ځل وليده

د ابشارونو د اواز سره د مرغانو اوزونه يو شوي و او يوه ښکلې موسيقي يې ترې جوړه کړې وه

عجيبه ښايسته منظره وه

زه د کلي په ښايست کې ډوب وم چې مسيح راته په اوږه لاس کيښوه

ويل يې:

يارو ځنګه ودرېدې، راځه کنه

زه هم ورسره روان شوم

مونږ د پټو په پولو روان و

په هر پټي کې به يو دا دوه کسه حتمن موجود و

او د ستر خبره خو بيخي هم نه وه

له هر ځايه به ښځې معلوميدې

چا به په پټي کې کارکاو نو چابه پيټی په سر کړې و

خو خير بلاخره چې مسيح د يوې دروازې مخې ته ودرولم

ويل يې دا زمونږ کور دی

دروازه يې ټک ټک کړه

پلار يې راووته

زمونږ په ليدو ډېر خوشحاله شو

ډېر ښه روغبړ يې وکړ راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ويې يې دننه راشه

کور ته چې ورغلو نو ټولې کوټې له ختو په ډېر ښکلي انداز جوړې کړې وې

د کور په چپ اړخ کې يې د مالونو لپاره ځای جوړ کړی و

په کوم کې چې يې دوه غواګانې تړلې وې

مخامخ ډېرې کوټې وې

مونږ هم د له ټولو نه په ښنګ کوټې ته لاړو

د مسيح مور هم راغله

ويل يې:

پخير راغلی بچيانو تاسې کېنی زه درته چای راوړم

مسيح ورته وويل:

مورې که زما منې له چايو تېره شه

ډوډی راوړه چې وږې يو

که رېښتيا ووايم زه هم ډېر وږی شوی وم

نو د مسيح خبره مې په زړه ډېره ښه ولګېده خو څه مې ونه ويل

لږه شيبه وروسته د مسيح پلار ډوډی راوړه

هګۍ يې په سوچه غوړيو کې پخې کړې وې

او يخې شرومبې هم وې ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور هم ډېر څه و خو زما دي دواړو ته ډېره تلوسه وه

خو بس ښه په مړه خېټه مو ډوډی وخوړه

له ډوډی وروسته مې مسیح ته وویل:

شي؟ څنګه به کار زما دا یاره

وویل مسیح:

وشي به هرڅه

دي ډېرې ورځې واخله خوند اوس نه رخصت پریده هرڅه دا اوس خو ګورو ورسره به بیا

شوه شپه کې خبرو همدې په

کړ جوړ کټ لپاره زما مسیح

شوم ویده ارامه په هم زه

راپاڅیدو لپاره لمونځ د وخته سهار

وڅکه چاې سهار د مو وروسته لمونځ د

وویل مسیح:

وګورم کلی دا دربانديې نن چې ده خوښه دي څنګه یارو عادله

ومنله ورسره هم ما

ووتو دباندې څخه کور له

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل ترڅو کړم راون پولو په يې بيا وليدل پټي خپل اول راباندې مسيح وګوري راباندې باغ

چيغې لرې ډېر له چا يو نو شو تېر پټو د دوى مسيح د چې ښنګه وهلې:

ملالې وااا ملالې

کړ راپورته سر چا يو پټي له سره چيغو دې له

کړ يې غږ ور:

وايې څه بيا ده خبره څه

و خوږ ډېر غږ دا ووايم ريښتيا که

کړم جلب يې ته طرف ځان د نو

راوګوري ته طرف زما ځل يو کاش چې ويل سره ځان مې همدا

پښه مې ناڅاپه يو چې وې ښخې کې جلی همدې په مې سترګې وخويده

وغورځېدم پولې له او

کړ يې غږ نو راوکتل شاته چې مسيح

يې؟ ښه عادله

شوم راپورته هم زه

يې خندل او راليدل طرف په زما هم جلی هغې چې ګورم

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوه هېره رانه دنیا نو ولیده هغه مې چې کله

مخ ګرد سپین هغې د

یې سترګې ښکلې

درلودې یې سترګې راښکونکې زړه ډېرې خو وې نه غټې هم څه که

وشرموي به حورې چې ویل به تا چې وه داسې یې خو خندا

ویښتانو د یې ځادر خپل نو کاو کار یې کې پټې په چې لپاره ددې وه راپرته ته مخې یې کمڅۍ اوږده چې و کې چاپېره داسې

درلودې یې شونډې سرې طبیعي نرۍ او ملا نرۍ قد، لوړ

.یووړ زړه رانه یې کې لیدو نظر یو په خوړوم سر مو به څه بس

چې خو وې کتلې ورته مې به وخته څومره تر چې شوی پوه یم نه زه خندا په ونیوم لاسه له مسیح چې کله شوم پوه ځان په وخت هغه :وویل یې کې خندا

کوې همدلته هم شپه چې لکه یارو شا جګ

شوم راجیګ هم زه

:کړ غږ ته ملالې انجلۍ کوچنۍ هغې

درته کوي غږ مور چې راشه

ورسره شوه روانه هم هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې ترخو.وې کړې خښې کې هغې په مې سترګې خو وم روان هم زه شوه پنا سترګو له مې

ته هيڅ زما خو وم ګرځولی ځایونو ډېرو په مسیح وروسته هغې له و نه پام نور هم

وه کې زړه او ذهن مې څېره ملالې د فقط

شو ماښام کې همدې په

کېږي سهار به کله چې وم وارخطا زه

ګورم ملاله بیا یوځل به زه او

دی نه سم چې شو پوه حالت په مې مسیح

وويل يې بڼه په ريشخند د نو:

ضربه دماغو دې غورځېدو په د چې لکه يې، فکرجن داسې خنګه يارو لېدلې.

وويل مې ورته راغله خندا هم ماته:

ووايم درته به څه مسيحه ياره.

شم ويده لړ چې يم شوې ستړی لړ فقط راباندې شوي ندي هم هيڅ کېږم ښه

وويل مسيح:

شه ويده ارامه په بيا وخوره ډوډی ده سمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړل همداسې هم ما

په پریښودم نه ته خوب سترګو ملالې د پریوتم کې کټ کله چې خو شوم ویده سخته ډېره

دریمه برخه:

سهار وخته چې لمونځ مو وکړ او چاې مو وڅکه پرته له دې چې مسیح ته څه ووایم له کوره ووتم

وه لیدلې پکې مې ملاله چې شوم روان لور په پټې هغه د او

و لګیا کار په پکې سړی یو ورسېدم ته پټې چې

معلومیده ناک غصه ډېر ورایه له

.شوم تمه په راتګ د ملالې د لاندې چنار یو د وړاندې لږ پټې د هم زه

شوه سترګو تر څوک یو مې وروسته انتظار لږ د

و نیولې کې څنګ خپل په یې منګی یو او ګنډه یوه

وګورم ورته ورغ ټوله غوښتل مې زړه چې راروانه ناز په داسې

ورکړه ته سړې موجود کې پټې په یې ګنډه هغه شوه نږدې چې ته پټې شوه روانه خواته خوړ د نوره او

شوم روان ورو ورو ورپسې هم زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو يو او ده ناسته کې ځنګ ګودر د چې ولیدل مې وروسته مزل لږ د وې ورسره هم نورې انجونې

و کې موقعیت ښایسته ډېر په ګودر

و باغ ښکلی يو ورته مخامخ وه تيره لويه يوه يې ته لوري يو

دوه يې ښايست ګودر د چې وه ونه توت د کې ځنګ په ګودر ددې او و کړې چنده

وم ولاړ مخامخ ته ملالې پوله يوه په هم زه

راليدلی ملالې که او ښکاریده راته ملاله خو وم پټ نورو له هم څه که ورته زه او وه ناسته کې ځنګ سره توت هغه ځکه شوم يې ليدلې هم وم ولاړ ترځنګ پولې مخامخ

وې جوړې کار لاسي ښایسته په چې جامې افغانی ملالې ورځ دې په وې اغوستې

جامو يې بانجاني رنګ درلوده

ډېرې ښې ښکارېدې ورسره

ما هغې ته کتل

او ځان سره مې وویل:

يا خدايه ستا په درکې به څه کم شي که ملاله زما په لور راګوري

د همدې خبرې په ويلو سره يې سترګې زما په طرف راواړولې

زما بدن له ډېرې خوشحالی په لړزا شو

انسانه هم عجیبه مخلوق دی

یو انسان یې په ټول عمر یې نه وي لیدلی خو همدغه کس چې یو ځل وګوري لکه ټول ژوند یې چې ورپورې وتړل شي

زه یوې خبرې ته حیران شوم هغه دا چې ملالې هم ماته داسې کتل لکه د چا سترګې چې ډېرې په چا پسې ګرځېدلې وي او بلاخره یې هغه کس پیدا کړی وي

خو هغه خلک وايي کنه چې ړوند د خدایه څه غواړي خو فقط دوه سترګې

ما هم د ملالې دیدار غوښته او ومې کړ

خو اوس مې زړه نه کېده چې هغه دې یوه دقیقه زما له سترګو پنا شي

پدې کې ملاله پاڅېده او د کور په لور روانه شوه

او زما زړه یې هم له ځان سره یووړ

خواشینی د کور په لور روان شوم

په لاره کې د مسیح سره مخ شوم

ډېر ستړی ښکاریده

زه یې چې ولیدلم ښه راته په غصه شو

ویل یې:

ته چیرته تللې وې ها؟

ما دریسپي ټول څایونه ولیدل

انسان خو یو چاته یو خبر وکړي چې دلته څم

ما ورته وویل:

یاره ته ولې دومره غصه یې څه ماشوم خو نه یم چې ورک شم

خو هلک بیا هم غصه و

ورته مې وویل:

سمه ده یاره بیا داسې نه کوم

بیا چې چیرته تلم وایم یې درته

ته نو اوس مه غصه کیږه

مسیح وویل:

سمه ده دا ځل دې بښم خو که بیا دې داسې وکړل خوله درباندې ماتوم

ما ورته وخندل او ومې ویل:

سمه ده سمه ده

مسیح زیاته کړه:

ته خو خبر یې کنه چې مونږ وړور ته کوژدن کړې

ما ورته وویل:

هو خبر یم ولې کوم څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


وېي ويل:

همدې هفته کې يې واده دی

ما ورته وويل:

ياره مسيحه ولا ډېر ښه وخت کې راغلو ښه

مسيح هم وخندل او د هو په بڼه يې سر وخوځاو

به بله ورځ بيا راغلم د ګودر طرف ته خو نن بيا هم نورې انجونې موجودې وې ورسره

خو نن ورځ ملالې هم په ما کې سترګې ښخې کړې وې

د يو منګي په ډکولو يې ډېر وخت تېر کړ

خو زه خوشحاله وم

ما ويل چې له هم ډېر وخت پرې تير کړي ترڅو ښه ډېره يې وګورم

ملاله ددې لامل شوې وه چې له ما هر څه هېر شي چې زه د څه لپاره راغلې وم او څه بايد وکړم

بس نور نو زما ذهن کې فقط يو څه و

هغه هم ملاله وه دا چې په ما څه راتلونکي دي له هغې هيڅ نه وه خبر.

خلورمه برخه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


له دې ورځې دوه ورځې وروسته د مسیح د ورور واده و.

خو په ټول کلي کې يې شه شور خوته د مسیح دوی له کوره

یاره د کلي واده بیل خوند لري

هره شپه به د هلکانو د سپلونو نوبت و

ښه په خوند به مو شپه تېروله

د نکریزو په شپه راته وویل شول چې کور ته به د شاه سره ننوځې او انجونې به درته په لاس نکرېزې ږدي

ددې خبرې په اورېدو ډېر وډار شوم

مسیح ته مې وویل یاره زه د ښځو منځ ته نشم تللی

مسیح ښه ډېر وخندل

او بیا د ټوکو په بڼه وویل:

عادله بچو ورشه د ټول کلي انجونې راځي شاید کومه یوه دې خوښه شي

ددې خبرې په اورېدو مې ملاله سترګو ته ودرېده

ورته مې وویل:

د کلي ټولې انجونې راځي؟

مسیح وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو راځي دا خو کوچنی کلی دی دومره ټول پکې داسې دي لکه یوه کورنی که چا کره ښادي وي څوک کور کې نه پاتې کیږي ټول راځي او ګډون کوي

ما ورته وویل:

سمه ده چې داسې وي نو ورځم

مسیح مسکی شو او ویې ویل:

دغسې لږ زړور شه

ماښام وخت راورسیده

ما هم توره جوړه په تن کړې وه ورسره سپین رومال مې له غاړې چاپېره کړې و

ښه خواري مې په ځان کړې وه

مسیح وویل:

عادل جانه راځه چې ځو

زه هم روان شوم ورسره

دننه کور کې يې په یو کټ ښکلی پوخ هوار کړې و

او مخې ته يې میز ایښی و

او په میز نکریزې چې شمعې پکې بلې وې ایښې وې

زه، مسیح او د مسیح ورور لاړو او کټ کې کښیناستو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما هم لکه د نادیداګانو پشان انجونو ته کتل ترخو ملاله پکې پیدا کړم

اول خو مې پکې پیدا نکړه خو چې ښه ځیير شوم د کوټې باهر کونج کې ولاړه وه

او ماته یې کتل

ډېره ښکلې شوې وه

نن یې سور رنګ کې جامې کړې وې

مخ یې بیخي ځلا کوله

ما هم چې هغه پیدا کړه بیا مې نو بل طرف ته چیرته کتلی شو

پدې وخت کې یوه انجلی راغله ماته یې وویل چې لاس دې راکه

ما هم لاس ورکړ ترخو نکریزې وکړي راته له نکریزو وروسته مې یو څه اندازه پیسې ورکړې

خو چې هغه مې له مخې لرې شوه ملالې ته مې پام شو غصه ښکاریده ماته یې راوکتل او نوره روانه شوه

زه هم له خپله ځایه جګ شوم

مسیح وویل:

چیرته روان شوې؟

ورته مې وویل:

یو کار لرم بیرته راځم

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه هم وويل :

سمه ده

زه په منډه په ملالې پسې روان شوم

د مسيح دوى د كور دوه دروازې دي

يوه يې كوڅې ته وتلې او بله د خوړ په لور ده

د خوړ په لاره فقط ښځې د اوبو راوړلو لپاره ځي

نور څوک خاص له هغې لارې استفاده نکوي

ملاله هم د خوړ په لاره له کوره ووته

ما هم موقع نه ضايع کوله

ورپسې ورغلم

له لاسه مې ونيوه

چې راويې کتل

غوښتل يې څه ووايي

ما يې هم په خوله لاس کېښوده يوې کوښې ته مې کړه

په يو لاس مې د هغې لاس نيولى و او بل لاس مې د هغې په خوله ايښى و

تر يو څو لحظو مې د هغې په سترګو کې ځان ډوب کړې و

بيا مې په قراره د هغې له خولې لاس لرې کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


نږدې ورغلم

پوزه مې د هغې د پوزې د پاسته کېښوده او تندی مې ورسره وجنګاو

مونږ دواړو سترګې پټې کړې وې

خو یو د بل د زړه درزا مو اوریده

د هغې زړه ډېر په زوره زوره درزیده

په هماغه حالت کې مې ورته وویل:

ای لیونی په ما دې څه جادو کړی ها

د یو څه وخت وروسته لاس مې پرېښوده او ترې لرې شوم

همداسې مې ورته کتل

دې هم سترګې راپورته کړلې

ویل یې:

کړی ندی جادو ما فقط

نوره مسکی شوه او سر یې ښکته کړ

ما ورته وویل:

څه څه ته بیا ووایه

په لړزیدلې غږ یې وویل:

زه یوه ساده کلیواله جلی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دومره خبرو نه پوهیږم  خو هو دومره درته ویلی شم چې له څه وخته چې مې لیدلی یې داسې راته ښکاري لکه کوم ورک څه چې مې پیدا کړي وي.

دې وخت کې نو ما فکر وکړ چې ټوله دنیا مې وګټله

خوا ته یې ورغلم

د هغې مخ مې په خپلو لاسونو کې ونیوه

ډېر ګرم و

تابه ویل چې تبې نیولې ده

غوښتل مې په مخ کې ښکل کړم

پوهه شوه

زما لاسونو نه یې ځان خلاص کړ او د کور په لور یې منډه  کړه

زه هم مسکی شوم

شاته مې ورپسې غږ کړ:

سبا ګودر ته یوازې راشه ترڅو خبرې وکو

پنځمه برخه:

نور نو زه له ډېرې خوشحالی په هوا روان وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسیح خوا ته ورغلم

ویل یې ځنګه داسې خوشحاله ښکارې

ورته مې وکتل هغه مې هم له ډېرې خوشحالی په غیږ کې ونیو او ورته مې وویل :

یاره خوشحالي ده کنه

ځنګه به نه یم خوشحاله

هغه هم حیران حیران کتل راته

ویې ویل:

هو دا خو دې ریښتیا وویل

راځه چې ځو دیرې ته ټول په تمه دي

زه هم ورسره روان شوم

هغه شپه مې هم په یو ډول تیره کړه

په سبا مو ناوې راوړه او ټول مراسم مو خلاص کړل

په مازیګر بیا د ګودر په طرف لاړم

ومې لیدل چې ګودر کې ملاله یوازې وه

زه هم خوشحاله شوم ځنګ ته یې ور روان شوم خو چې پورته مې ولیدل دوه انجونې له خپلو منګیو سره د ګودر په لور راتلې

ما هم ځان بیرته پټ ځای ته ورساو

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو دي انجونو ته مې ډېره غصه راتله

هسې يې ځان په کباب کې هډوکی کړ

زه ډېر په تمه شوم خو هغه انجونې نه تللې

اخر ملاله يوازې له ګودره روانه شوه

زه هم په لنډه لار د هغې مخې ته ورغلم

د يوې ونې شاته ودريدم

په قراره مې ورغږ کړ:

ملالې!!!!

هغې هم راوکتل

شاوخوا يې وکتل او بيا زما په لور راغله

دا ځل ما هم په لاس ورکولو روغبړ وکړ ورسره

ورته مې وويل:

څنګه يې؟

ويې ويل:

ستا يادونو ليونی کړی يم که نه نو روغه جوړه وم

بيا يې زياته کړه:

ای ته خو به له ما سره د ساعت تيري فکر نلرې کنه؟

ما به خپلوې کنه؟

ورته مې وویل:

لیونۍ په هیڅ صورت دې بل چاته نه پرېدم

ریښتیا غوښتل مې ستاسو د کورنۍ په اړه معلومات واخلم درنه تر څو بیا په خیر جرګه ولېږم تاسې کره

هغه مسکۍ شوه او ویې ویل:

زما پلار محمد اکبر نومېږي

په کوم پټي کې چې ته هغه ورځ راوغوځېدې هغه زما د پلار و.

زمونږ جایداد ډېر دی

اووه ورونه لرم

او یوه خور مې ده هغه هم کوژدن شوې ده

یو کاکا لرم خو له هغه سره زما د پلار څه دښمني ده

نو نه مې هغه کله لیدلې او نه مونږ کره راغلې

دا پورې کلا چې ګورې دلته زمونږ کور دی

زما پلار له چا ولور نه غواړي

ما هم وخندل او ورته مې وویل:

ولا دا اخیري خبره دې ډېره ښه وکړه

هغه هم مسکۍ شوه سر یې ښکته کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې پوښتنه کړه:

خا ته دې د ځان په اړه هم ووایه کنه

ما ورته وویل چې پلار مې محمد قاسم نومیږي

مخکې له دې چې نور څه ووایم هغې وویل:

زما د کاکا هم همدا نوم دی

ما ورته وویل چې کاکا دې چیرته اوسیږي

ویل یې نه پوهیږم

ما ورته وویل:

څنګه نه پوهیږې؟

یاره زه دې شک کې واچلوم

ستا د نیکه نوم څه دی؟

ویې ویل:

ابراهیم

شوه کیسه څه اوس نو دا چې شوم حیران هک

:یې ویل

وشو؟ څه

:وویل ورته ما

(c) ketabton.com: The Digital Library


نومیده ابراهیم هم نیکه زما

مطلب ته زما د تره لور یې؟

هغه هم حیرانه وه

ورته مې وویل ځا ته لاړه شه زه معلومات کوم

هغه روانه شوه

یو څو قدمونو وروسته یې راولیدل او ویې ویل:

په ځان پام کوه

زه ورته مسکی شوم او ومې ویل:

ته هم په ځان پام کوه.

سبا بیا ګورو سمه ده

هغې وخندل او روانه شوه

خو زمونږ بدبختي لا شروع شوې نه وه.

شپږمه برخه:

ملاله چې کله کور ته تللې وه نو کور کې خور ته یې چې د راز ملګرې وه ویلي و:

خورې! فکر کوم عادل زمونږ د کاکا زوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


خور يې ورته ويلي و چې دا څنګه امکان لري هغوي خو کلونه کېږي چې له دې کلي تللي او بيا ندي راغلي

دوى په همدې خبرو کې و چې ورور يې د دوى ټولې خبرې اورېدلې وې

کوټې ته ورداخل شو او ملاله يې له ويښتانو ونيوله او ورته يې وويل:

دا عادل څوک دى؟

ملالې ورته وويل:

زه نه پوهېږم

ورور يې له ويښتانو پرېښوده او په ځمکه يې وغورځوله

او ورته يې وويل:

تا سره زما کار شته فقط لږه په تمه شه

نور له کوټې وتلې و

او ملاله يې همداسې په ژړا پرېښې وه

او خپلو ورونو سره يې دا خبره شريکه کړې وه

د ملالې يو ورور زه پيژندلم ځکه هغه هم زلمی و

خبره مې تر تره رسيدلې وه

هغه ورته ويلي و چې که ومو ليده ويې وژنی ترڅو د کلونو بدله واخلم د خپل ورور نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه هم چې د مسیح دوی کور ته ورسېدم د مسیح له پلاره مې پوښتنه وکړه:

کاکا جانه تاسې خو دلته له ډېر پخوا اوسیږی

د محمد اکبر کاکا د کورنی په باره کې خو لږ معلومات راکړه

هغه راته حیران راوکتل

ما زیاته کړه:

کاکا جانه شاید د کوم څه د معلومولو لپاره چې زه دلته راغلی یم هغه په همدوی پورې اړه ولري

مسیح په اوله ورځ خپل پلار ته زما د مشکل په اړه ویلي وو.

نو د مسیح پلار راته وویل:

دا محمد اکبر د ابراهیم کاکا زوی دی.

ابراهیم کاکا درې زامن درلودل

ډېره یوه خوشحاله کورنی یې درلوده

خو د ابرهیم کاکا د مرګ وروسته هر څه بدل شول.

خلک وایي چې یو ورور یې د جایداد لپاره بل ورور ووژه که څه هم هغه یو ډېر ښه هلک و

تعلیم یې هم کړی و

خو بس شاید جایداد به څه جادو کړی و پرې

د قتل وروسته نور هغه له دې کلي تښتېدلې

او بيا چا ندی ليدلی

زما له وجود نه اروا لاړه

ځکه کوم څوک چې ښار ته تللی او بيا ندی راغلی هغه خو زما پلار دی

د مسيح له پلاره مې د هغوی د نومونو پوښتنه وکړه

هغه وويل:

محمد اکبر خو پيژنې

بل يې محمد ظاهر و کوم چې ووژل شو

او څوک چې لاړو د کلي هغه.... محمد قاسم نومېده

بس زه باوري شوم چې هغه مې پلار دی

خو په هيڅ صورت مې ذهن نه منله چې زما پلار به کوم څوک وژلي وي

ددې د معلومولو لپاره بايد زه ولسوالی ته تللی وای ترڅو پلار ته مې زنګ وهلی وای

ځکه دلته کليو کې موبايلونه کار نکوي

اراده مې وکړه چې سبا د ملالې د ليدو وروسته هماغسې ځم ولسوالی ته ځکه ملالې ته مې ويلي و چې سبا ګورو سره

هغه مې په تمه نشوه پريښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې سهار شو مسیح ته مې وویل:

ځم ته طرف ولسوالی د زه

هغه وویل:

درسره ځم هم زه کوم هغه راسپارلې کار لږ مې پلار وکړه صبر

ما ورته وویل:

روانیږم زه کیږي نه صبر زما

ته ما پسې وروسته راځه

زه لاړم

هغه وویل:

سمه ده ته ځا زه هم درغلم

د ملالې دوی د کور په لار د هماغې پرونی ونې سره ودریدم

غوښتل مې ملاله وګورم او لاړ شم

د یوې شیبې وروسته ملاله د خپل منګي سره راروانه وه خو ډیره وارخطا ښکاریده

چې راورسیده غږ مې پرې وکړ:

ملالې دلته راشه

هغې چې ولیدم رامنډه یې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


منګی یې په څمکه کیښوده او په دواړه لاسونو یې زما مخ کلک نیو ما یې هم په مړوندونو لاسونه کېښودل هغې وویل:

قربان دې شم عادله لاړ شه له دې ځایه

ما ورته وویل:

څه شوي دي؟

هغې شاته وکتل په ریښتیا هم څو ځوانان لرګي په لاس زمونږ په طرف راروان وو.

ملالې له ما لاسونه چاپېره کړل

کلک یې ونیولم

په ژړا کې یې وویل:

که تا وژني نو ما دې هم ووژني درسره

د هغې لاسونه مې له ځانه خلاص کړل او ورته مې وویل:

په ما هیڅ هم نه کیږي ته د ګودر په لورې ژر لاړشه هله

هغې نه منله

زه روان شوم

چې ومې کتل هغې هم منګی راپورته کړې و او روانه وه خو سترګې یې ما کې ښخې کړې وې

اول ځل و چې داسې په ژړا مې ولیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډېره سخته وه

خو بس زه هم د خوړ په لور بیرته روان شوم ځکه مخامخ خو نشوم تللی

مرګ هسې هم زما په طرف راته او ما هم غاړه ورکړې وای نو کمعقلي وه

زه په بېړه خوړ ته ښکته شوم

غوښتل مې ترې واوړم

خو دې وخت کې یو کس راباندې غږ وکړ:

عادله ودرېږه!

زه هم ودرېدم

وروسته مې بیا خیال شو چې ماته څه اړتیا وه چې درېدم خو روان به وای کنه

خو بس اوس مې غلطي کړې وه نوخبره

اوومه برخه:

هغوی ماته نږدې راغلل

ومې لیدل چې د ملالې ورونه دي

مشر ورور یې رانه پوښتنه وکړه:

خا نو ته د محمد قاسم کاکا زوی یې ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما ورته وویل:

هو زما پلار محمد قاسم دی

ویې ویل:

ته پوهیږې چې هغه څومره لوی جرم کړی؟

ما ورته وویل:

ما هم واوریدل

خو هغه هیڅا هم ندی لیدلی چې هغه یې وژلی وي او نه تاسې کوم ثبوت لری

ددې خبرې په کولو سره مې په خوله یو زورداره سوک وخوړ.

ډیره غصه راغله

ددې لپاره چې د سوک بدل ورکړم هغه مې هم وواهه

خو له شانه چا ډیر سخت په سر ووهلم

پښو مې کار پرېښوده او په ځمکه راپریوتم

له شانه چا په ژړا زما نوم اخیسته او چیغې یې وهلې

حرکت مې نشو کولی

ډیر په سخته مې خپل سر د هغه اواز په طرف ورواړاو

ومې لیدل مې ملاله ده

ژاړي او زما په طرف په منډو راروانه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخکې له دې چې ترما راورسېږي يو ورور مې ونيوله

اول يې په مخ ښه په زوره ووهله هغه چې په ځمکه پريښوته ورور يې ورته وويل:

بې ناموسې، بې حيا زه پوهېدم چې ته حتمن دده ليدو ته راځې او دا چې هم هر ځای کې وي ته يې پيدا کولی شې مونږ ته

نوره يې هغه له ويښتو ونيوه او په کشولو يې د کور په طرف روانه کړل

هغې ډېر بد بد ژړل

له ځان سره مې وويل:

کاش چې زه مړ شوی وای خو ملاله مې داسې حالت کې نه وای ليدلې

هر څه زما له لاسه په هغې راغلل

له سترګو مې بې واره اوښکې روانې وې

مشر ورور يې راښکته شو

راته يې ولېدل

ورونو ته يې وويل:

تر هغه يې ووهی چې ساه يې نه وي وتلې

دې ظالمانو هم په لرګيو په سر ووهلم

زه نو بيا ځان ته نه يم پوه شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې مې سترګې خلاصې کړې ومې لیدل چې د ولسوالی په معاینه خانه کې یم

مسیح مې سرته ولاړ دی او سترګې یې له اوښکو ډکې دي

مسیح ته مې وویل:

مسیحه!

هغه چې ولیدل زه په هوښ راغلی یم:

نو ژر زما خوا ته راغی او ویې ویل:

قربان وروره شکر چې په هوش راغلې

ما ورته وویل:

زه چا دلته راوستم

مسیح وویل:

تاته خو مې ویلي وکنه چې ته ځا زه درځم

کار چې مې خلاص شو زه هم درروان شوم

کله چې خوړ ته ورسېدم ومې لیدل چې هغوی ستا په وهلو لګیا ما هم غږ پرې وکړ چې دلته څه خبره ده

هغوی هم زما په لیدو روان شول

کله چې نږدې درغلم ته په وینو کې پټ وې

ددې خبرې په کولو یې په سترګو کې بیا اوښکې راغلې

زياته يې کړه:

بيا مې ته په اوږه ترديې ځايه راوړلې

او هو کله چې ته يې هوښه وې ما دې پلار ته هم زنګ وواهه

هغه اوس د باندې ولاړ دی

ما ورته وويل:

مسيحه څه خو به دې ورته ويلي نه وي؟

هغه وويل:

نه ما ورته څه ندي ويلي

فکر مې وکړ ته يې ورته ووايې نو ښه به وي

ما ورته وويل:

سمه ده وروره غږ وکه ورته

هغه هم د هو په بڼه سر وخوځاو

پلار مې راغی ستړګې يې سرې وې

راغی زه يې غېږ کې ونيولم

او په ژړا يې پيل وکړ

ويې ويل:

ما د همدې لپاره درته ويل چې مه ځه کلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


وګوره څه حالت دربانديږ راغی

هغوی ډېر وحشیان دي

په هیچا رحم نلري

زه ددې خبرو په اوریدو ډېر حیران شوم

ورته مې وویل:

پلاره! تا ریښتیا زما کاکا وژلی؟

د پلار مې سترګې راووتې

ویې ویل:

دا درته چا وویل

اتمه برخه:

ما ورته وویل:

پلاره ټول کلی همدا وايي چې تاسې خپل ورور وواژه او له کلي وتښتېدای

په پلار مې سر وګرځېده

په خپل ځای کښېناست

ویې ویل چا چې ظاهر وژلی زه نه یم بلکې اکبر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ظاهر وواژه او بیا یې غوښتل چې ما هم ووژني نو ځکه زه له کلي لاړم

او بیا ددې لپاره هیڅکله کلي ته رانغلم ځکه ما نه غوښتل چې د خپل ورور د قاتل مخ وګورم

او نه مې بیا دا جایداد پکار و

ددې خبرو په اورېدو زه نور هم حیران شوم

چې اخر دا څه روان دي

آیا په ریښتیا زما پلار ځوک ندي وژلي؟

که یې نه وي وژلی نو آیا اکبر کاکا تمثیل کوي؟

او که هغه هم بې ګناه دی؟

که هغه هم بې ګناه وي نو بیا ظاهر کاکا چا وژلي؟

پلار مې هماغسې ناست و چې زما ذهن ته یوه پوښتنه راغله

پلار ته مې وویل:

پلاره! ته څنګه پوهېږې چې ظاهر کاکا د اکبر کاکا په لاس وژل شوی؟

پلار مې وویل:

زمونږ د کلي مشر ایوب کاکا راته وویل

د پلار له مرګه وروسته هغه د کلي مشر شو

زمونږ د پلار تر ټولو نږدی ملګری و

هغه زمونږ کور ته د ماښام وخت کې راغی او ویې ویل چې ظاهر مړ شوی

ته هم ژر ځان ورباسه که نه نو تا هم وژني

ما هم پرته له تا څوک نه درلودل ته هم فقط دوه کلن وې

او ورور مې لوی لوی زامن درلودل

نو ځکه په هماغه ماښام له کلي ووتو

ما مسیح ته غږ کړ:

مسیحه دا ایوب ژوندی دی او که نه؟

هغه وویل:

له څو کلونو راهیسې د مرګ په بستر پروت دی خو مړ ندی تراوسه.

ورته مې وویل:

مسیحه ما پورته کړه چې د ایوب کاکا کور ته ځو

مسیح وویل:

داسې امکان نلري ستا زخمونه تراوسه تازه دي ته باید لږ ارام وکړې

ما ورته وویل:

دا نو د ارام وخت ندی

زه چې په راپاڅېدو کې شوم نو ملاله مې ذهن ته راغله

زړه مې په درزیدو شو

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسيح ته مې پټ وويل:

مسيحه! ملاله به څنګه وي

هغه وويل:

هغه يې ورونو کور کې په يو اتاق کې بندي کړې ده خو تشويش مه کوه هغه ښه ده

اوس نو د ريښتيا معلومول يوازينی لار وه چې ملاله مې پرې ژغورلی شوه

له خپل ځايه راپاځيدم

مسيح مې له لاسه ونيوه

پلار مې هم راسره روان شو

لاره کې مو خو ځايه دمه وکړه

خو ځان مو د يو زوړ کور دروازې ته ورساو

مسيح وويل:

هغه همدلته اوسيږي

دروازه مو ټک ټک کړه

يو کوچنی هلک راووت

مسيح ورته وويل:

د ايوب کاکا سره مو کار دی

هغه وویل:

راځی

مونږ هم کور ته وردننه شو

ډېر یو زوړ او کوچنی کور و

یوه کوټه یې درلوده هغه هم ډېره خرابه شوې وه

هلک هم مونږ هغې کوټې ته دننه کړو

کوټه کې تیاره وه

او یو ډول بوی هم پکې و

هغه هلک لاړ او کړکی یې خلاصه کړه

چې ومې لیدل یو ځوک چې په خوله کې یې یو غاښ نشته او ډېر کمزوری دی په کټ کې د یوې شړېڼې کمپلې لاندې پروت و

زما پلار یې چې ولیده ویې پېژنده

په لړزېدونکي اواز کې یې وویل:

قاسمه دا ته یې؟

پلار مې ورته وویل:

هو کاکا زه یم

هغه بوډا سړي یو سوړ اسویلی له خولې وویسته او ویې ویل:

دا ځوکلونو راهیسې ستاسې په تمه یم

اکبر چیرته دی؟

ورته ووایه چې راشي زه باید ډېر یو ضرور خبره تاسې ته وکم.

مسیح ته مې وویل:

ورور جانه که کولې شې اکبر کاکا مې راضي کړه او دلته یې راوله

مسیح هم ومنله

یو لس دقې وروسته مسیح او اکبر کاکا یوځای راغلل

کاکا چې مې پلار ولیده نو ډېره په غصه شو

غوښتل یې چې غاړې ته یې لاس ورواچوي وي

خو مسیح کلک نیولی و

ما ورته وویل:

کاکا صبر وکړه

یو ځل پریده چې په هر څه پوه شو بیا چې څه کوې هغه وکړه.

کاکا مې هم کیناسته

هغه بوډا سړي په خپل لړزیدلي غږ کیسه داسې شروع کړه:

زه او ابراهیم نږدې ملګري و

ډېر وخت به مو یوځای تیراو

هغه په هرچا ډېر ګران

اول په ما هم ډېر ګران و خو کله چې د کلي د مشرۍ خبره راغله نو ما غوښتل چې د کلي مشر شم

نو کله چې خبر شوم ابراهیم هم همدا اراده درلوده

کله چې د کلي له خلکو پوښتنه وشوه هغوی ابراهیم انتخاب کړ

په زړه کې مې ورته کرکه پیدا شوه

خو هیڅ مې هم نشو کولی

وخت تیریده او ابراهیم ضعیفه کېده

خو تاسو یعنی زامن یې را لوی شوی

زه پوهېدم که ابراهیم مړ هم شي بیا به زما زامنو ته ستاسې له امله د مشرۍ موقع نه وي

د ابراهیم د مرګ په دوهمه ورځ زه ملک وټاکل شوم

خو زما کینه هماغسې زړه کې وه

ددې په فکر کې شوم چې داسې څه وکم چې تاسې د خپلو زامنو له لارې لرې کم

له ډېر فکر وروسته مې ذهن ته یو څه راغلل

ظاهر کوچنی و

او زما د زامنو ملګری هم و

زوی ته مې وویل چې هغه زمونږ د کور شاته سمڅې ته راوغواړه

کله چې ظاهر راغی نو

خپلو کسانو ته مې وویل چې ویې وژنی

کله چې یې هغه وواژه نو زه د قاسم کور ته لاړم ورته مې وویل چې اکبر ظاهر وژلی او تا هم وژني

هغه مې له کلي وویسته

زه هم لاړم او د ظاهر مړی مې راواخیسته او د اکبر کور ته لاړم ورته مې وویل چې قاسم خپل ورور وژلی او له کلي تښتیدلی

پدی توګه

یو مې وواژه

بل مې له کلي وویسته

او بل مې د بدلې په اور کې پرېښوده

ددې خبرو وروسته هغه بوډا په ژړا پیل وکړ او ویې ویل:

خو دا هرڅه چې مې د چا لپاره وکړل هغوی زه دلته مرګ ته پرېښودم

او لاړل رانه

په میاشتو هم زما لیدو ته نه راځي

دغه کوچنی هلک یې راته نیولی

او په تمه دي چې کله به زه مړ کیږم

خو ما دومره ډېر ګناهونه کړي چې مرګ هم نه راځي اوس

هغه چې دا خبرې خلاصې کړې زما پام پلار او کاکا ته مې شو

هغوی هم ژړل

یا به یې خپل قسمت ته ژړل او یا هم خپلې کمعقلی ته

ځکه پرته له دې چې په اصلي خبره پوه شي یو له بل سره یې دښمني کوله

اکبر کاکا پورته شو

او پرته له دې چې څه ووایي روان شو

پلار مې هم خاموشه و

یو څه پیسې یې له جیبه راووستې او د بوډا سرې د بالښت سره یې کېښودی

مسیح او پلار مې زه له لاسه ونیوم او روان یې کړم

په لاره کې مې پلار راته وویل چې باید ښار ته لاړ شو او د یو روغتون نه لیدنه وکړو

ما ورته ډېر وویل چې زه ښه یم خو پلار مې نه منله

کله چې ولسوالی ته ورسیدو

مسیح په اوږه مې لاس کېښوده او غوږ کې مې ورته مې وویل:

وروره د ملالې په اړه معلومات وکړه او بیا ماته ووایه سمه ده.

هغه هم وویل چې سمه ده.

زه هم د ملالې د فکرونو سره د ښار په طرف روان شوم....

نهمه برخه:

پلار مې په ښار کې يو لوی روغتون ته بوتلم

هغوی هم زما ټول معاينات وکړل

او پلار ته مې يې وويل:

کومه خاصه خبره نه ده تپ يې لږ ژور دی دوا په وخت ورکوی ډېر ژر به ښه شي پخير

نور مونږ هو د کور په لور روان شو

کله چې کور ته لاړم نو مور مې زما له حالت نه وه خبره

چې يې وليدم رنګ يې ژېړ شو

کلک يې غېږ کې ونيولم او چيغې يې کړې:

په تا څه شوي دي زويه؟

ته ولې داسې حالت کې يې؟

چا داسې کړې درسره؟

ما ورته وويل:

مورې ارامه اوسه اوس بيخي ښه يم.

پلار مې هم ورته وويل چې اوس ښه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه موري زه به مې کوټې ته لاړ شم لږ ارام به وکم

هغې وویل:

سمه ده زویه راځه

زه چې کوټې ته لاړم مور مې راباندې کمپله هواره کړه

په سر یې ښکل کړم او نوره له کوټې لاړه

ما هم خپل موبایل راواخیسته

مسیح ته مې د زنګ وهلو هڅه وکړه خو موبایل یې کار نه کاو

ما هم موبایل ځان سره نږدې کېښوده او د مسیح د زنګ په تمه شوم

ځکه بله لار مې نه درلوده

په همدې انتظار کې مې سترګې خوب وړې وې

د زنګ په ټالی را جیګ شوم

ومې لیدل چې مسیح و

ژر مې جواب ورکړ

اوله خبره مې همدا وه چې:

مسیحه ملاله څنګه ده؟

هغه وویل:

هغه اوس ښه ده

خور مې نن ګودر کې ليدلې وه

ويل يې چې مخ يې پټ کړی و

خو سترګې يې معلومېدې

شنې وې

مسيح خبرې کولې او زه ژړا نيولی وم

ورته مې وويل:

خير دی وروره ماته د ملالې په اړه احوال راکوه سمه دهاندلی

هغه وويل:

سمه ده ورور جانه

نور مې زنګ کټ کړ

ورځې تيرېدې

پوهنتون هم شروع شو

مسيح هم له کلي راغلی و

ټوله ورځ به ورسره ناست وم او د ملالې په اړه به مې خبرې کولې ورسره

هغه راته يوه ورځ وويل:

ياره عادله ته هم ډېر چالاکه وختې شه ,ستا دومره يو ځوک خوښه شوې وه او آن زه درباندې پوه هم نشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو خفه هم یم درنه

تا نو ولې له ما پټوله

په ما دې باور نه درلوده؟

ما ورته وویل:

نه یاره په تا خو له خپل ځان نه هم ډېر باور لرم

خو خبره دا وه چې زه هیڅ نه پوهېدم څه کوم او څه باید وکړم

ټول حواس مې له هغې سره و او اوس هم دي

مسیح زیاته کړه:

ښه ته خو داسې بې غمه ناست یې که بل څوک یې درنه خپله کړي بیا؟

ما ورته وویل:

داسې خبرې مه کوه یاره

زه به مړ شم که هغه د بل چا شوه

مسیح وویل:

خا نو اوس څه اراده لرې؟

ورته مې وویل:

یو فکر کوم بیا یې وایم درته

(c) ketabton.com: The Digital Library


کورته چې راغلم په همدې فکرونو کې وم چې مور مې راغله راته يې وويل:

پخير راغلې عادله زويه!

څه خبره ده خفه معلومېږې

ما ورته وويل:

مورې که زه له تا کوم څه وغواړم کوې يې؟

مور مې وويل:

هو ته يې يو ځل ووايه

ما ورته وويل:

زه چې کلي ته تللې وم زما يو څوک خوښه شوې

او که هغه د بل چا شوه زه مړ کېږم

غواړم خپله يې کړم

ته راسره مرسته کوې؟

مور مې وويل:

خو څوک ده دا جلی

د چا لور ده؟

ما ورته وويل:

د اکبر کاکا لور

(c) ketabton.com: The Digital Library


مور مې حیرانه شوه ویې ویل:

دا ته څه وایې

لسمه برخه:

ما ورته وویل:

ګوره مورې یوه لاره پیدا کړه او پلار ته مې ووایه

مور مې وویل:

اوس خو یې ترمنځ دښمني هم نشته خو بیا هم ستا له پلاره وېرېږم

خو زه ستا لپاره یوه لاره پیدا کوم

ورته مې وویل:

هله نو مورې دا کار راته کړه ټول عمر به دې احسانمند اوسم

مور مې وویل:

ښه ته لاړ شه یو څه وخوره زه څه فکر کوم

په سبا سهار مې مور راته وویل چې پلار دې غږ کوي درته

زه هم ورغلم

پلار مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېنه زویه د یو څه مشوره کوم درسره

ما ورته وویل:

ووایه پلار جانه

پلار مې وویل:

بیګا دې مور یوه ډېره ښه خبره کړې راته

خو زه نه پوهېږم چې ستا به خوښه شي او که نه

مور دې وویل چې اوس خو دې زمونږ دښمني د اکبر کاکا سره دښمني ختمه شوې نو ددې لپاره چې اړیکې مو نورې هم ښې شي که د هغوی سره خپلوي وکړو نو څنګه به وي

ما ورته وویل:

زه پوه نشوم پلاره

پلار مې وویل:

زما هدف دادی که چیرته د اکبر کاکا لور دې تاته وغواړو ته خو به کوم مشکل نلرې ؟

زما نو زړه له ډېرې خوشحالۍ په ټوپونو شو

خو پلار ته مې فقط دومره وویل:

پلار جانه څنګه چې تاسې ته مناسب او صحي ښکاري هماغسې وکړی

زه ستاسې په هره فیصله راضي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library


پلار مې وويل:

بيا نو ډېره ښه ده

زه او مور به دې همدې هفته کې کلي ته لاړ شو

زه نور روان شوم

له کوټې چې ووتم مور مې کلکه غېږ کې ونيوه

لاسونه مې ورته ښکل کړل هغه هم خوشحاله وه

دا ورځې داسې تېرېدې لکه يو کال

همدا به مې ويل چې کله به مې مور دوی ملاله زما په نوم کوي

خو يو بل تشويش هم راسره و

هغه دا چې د ملالې ورونه زمونږ په مينه پوه شوي وو

او زمونږ د پښتنو خو دا عادت دی چې پوه شو دا دوه کسان يو له بل سره مينه لري بيا نو چې په هر قيمت کيږي بېلوو يې

همدې خبرې ډېر زورولم

خو بيا مې هم دعا کوله چې

يا الله ته يې په زړه د رحم اوبه توی کړې ترڅو زما پلار ته انکار ونه کړي

بلاخره هغه ورځ راورسېده

مور او پلار مې د سوغاتونو سره د کلي په لور روان شول

خور مې هم له ځان سره بوتله

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه نو کور کې د خپلو فکرونو سره یواځې پاتې شوم

ددې لپاره چې دا فکرونه مې ونه خوري مسیح مې کور ته راوغوښته

شپه راسره هغه وکړه

په سبا د جمعې مبارکه ورځ وه

داسې یوولس بجې شاوخوا به وې چې پلار مې زنګ وواهه

ویې ویل:

پخیر درځو نن زویه

کړ قطع زنګ یې نور

دی شرم کولی نشم هم پوښتنه چې شوم حیران نو اوس

راته ویل ونه هم مې پلار او

ویل ونه څه یې خو ځکه ورکړې نده یې حتمن چې وخوړه مې زړه په

شو درد مې سر په

وکړم څه چې وم پاتې حیران هک

یوولسمه برخه:

یو څو ساعته وروسته مې پلار دوی راورسېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library


پلار مې زنګ وواهه چې هلکه ګېټ خلاص کړه

زما نو وضعه ډېره خرابه وه خو بیا هم ورغلم

ګېټ مې خلاص کړ پرته له دې چې څه ووایم روان شوم

خور مې شاته راپسې غږ کړ:

وروره دستمال دې نګورې؟

په خپل ځای ودرېدم

ټولو ته مې کتل

پلار مې وویل:

مونږ ټولو ته دې مبارک وي

مور مې په خندا کې وویل:

راځه کور ته چې ننوتو ټوله کیسه درته کوم

مور مې کیسه داسې شروع کړه:

کلي ته چې راړو ستا د کاکا دوی کور ته ورغلو

ډېر په درنه سترګه یې ولیدل راته

پلار دې ورته د شپې د خپلوی خبره یاده کړه

کاکا دې وویل چې خبره خو دې ښه ده خو صبر زه مشوره کوم

سهار ټولو ورسره موافقه کړې وه

او دستمال يې راکړ

او هو پلار ته دې ما ويلي و چې درته ونه وايي

ورته مې وخندل

زړه کې مې ويل چې زما زړه خو وويسته خو بس څه به ووايم درته

له دې وروسته مې بيا کوژدن وشوه

اوس نو ددې خدای وهلي پوهنتون د ختميدو په تمه دي ترڅو ملاله زما کړي

دومره جدايي!

خو خير الله به يې تيره کړي

دا خبره مې زړه ډېر خوشحاله کوي دا چې ملاله زما ده فقط زما........

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**